C  برخه: د چرګ پالنې منجمنټ او اداره
درېم لوست: د الوتونکو د صحت منجمنټ او اداره

**د زده کونکو د زده کړې موخې یا هدفونه:** زده کونکي به ددې لوست په پایله کې د لاندې موخو یا هدفونو سره اشنا شي، ددې لوست تشریحات به د لاندې موخو یا هدفونو د لاسته راوړنې سبب شي:

١ . د الوتونکو لپاره د حفظ الصحوي عملیاتو د کړنې تشریح او روښانه کول.
٢ . د صحت د منجمنټ او اداري نورې کړنې کومې چې په چرګ پالنه کې استعمالیږي.
٣ .د الوتونکو واکسین کول.

**د لوست د تدریس لپاره وړاندیز شوی وخت:** ٣ ساعته

**وړاندیز شوي منابع یا زیرمې:** لاندې منابع یا زیرمې کیدلی شي چې په دې لوست کې ګټوري واقع شي. د درسي پلان د غوره مخکې وړلو لپاره نوموړي پلان په پاورپواینټ کې هم تهیه شوي دي.انټرنیټ د باغونو د حشراتو د کنترول په برخه کې کافي معلومات لري. په دې برخه کې لاندې ځنې منابع ذکر شوي دي:

- A PowerPoint has also been developed for use with this lesson plan
- http://pubs.caes.uga.edu/caespubs/pubcd/B1244/B1244.htm

**د سامانونو، وسایلو، لوازمو او اسانستیاوو فهرست یا لیک لړ**

- تحریري یا د لیکنې صفحه
- د پاورپوانټ سلایډونه
- روښانه سلایډونه
- د الوتونکو د خوراکو مختلفې برخې

**اصطلاح ګاني:** لاندې اصطلاح ګاني به په دې لوست کې وړاندې شي( نوموړي اصطلاح ګاني د پاورپوانټ په ٢ شمیره سلاید کې په ایټالیک ډول سره ښودل شوي دي)

- All-in, all-out د فارم داخل ته د هم عمر لرونکو چوړګوړو داخلول او په عین وخت کې له فارم څخه مارکیټ د هغوی ویستل
- Intranasal vaccination د الوتونکو په پوزه کې د واکسین تطبیقول(چرګ)
- Intraocular vaccination د الوتونکو په سترګه کې د واکسین تطبیقول (چر)
- Wing web vaccination د واکسین تطبیقول د وزر په پوستکی کې د پیچکاری په شکل سره

**په زړه پوري تکلاره:** له یوې په زړه پوری تکلاري څخه ګټه پورته تکړئ ترڅو چې زده کونکي د لوست د زده کړې لپاره اماده کړي. ښوونکی اکثره د خپلو ځانګړو تولګیو لپاره د زده کونکو د شرایطو سره سم تکلاري تهیه او برابروي یا ترتیبوي. لاندې تکلاره کیدلی شي چې د یوې ممکنه تکلاري په ډول سره ورڅخه یادونه وکړل شي: د یوه روغ یا سالم چرګ عکس او هم د یوه ناروغ چرګ تصویر په ګوته کړئ. د پاورپوانټ له ٣ شمیري سلاید څخه استفاده وکړئ. له زده کونکو نه غوښتنه وکړئ چې د دې دوه تصویرونو په منځ کې توپیرونه مقایسه یا پرتله کړي. تاسې څه فکر کوئ چې دا چرګ ولې ناروغه شوي دی؟ او ددې چرګ د درملنې لپاره څه باید چې سرته ورسیږي او تاسې د خپلو الوتونکو د صحت ساتنې لپاره څه کوئ؟ د یوې لنډې مذاکرې څخه وروسته د لوست لومړی موخې یا هدف ته مراجعه وکړئ .

**د محتویاتو یا منځ پانګو لنډیز او درسي ستراتیژي ګاني**

لومړۍ موخه یا هدف : الوتونکو لپاره د حفظ الصحوي عملیاتو د کړنې تشریح او روښانه کول.

**(د پاورپواینټ ٤ شمیره سلاید)**

١ . دا چې د الوتونکو یوه ګله یا رمه د اطاق یا کوټې په داخل کې(مرغانچه کي) په بند ډول سره ساتل کیږي او یا هم دا چې هغوي ته په ازاده ساحه کې د ازادانه ګرځیدنې لپاره اجازه ورکول کیږي، د هغوي صحت اوس هم یو بحث دی او باید چې تنظیم کړل شي.

A . که چیري الوتنکي په مرغانچو کي ساتل کیږي نو په دې صورت کې د وقفې په منځ کي یوه کړنه یعنې هغه وخت چې یوه ګله له فارم څخه خارج او مخکې له دې څخه چې نوي ګله ورته راوړل شي باید په لاندې توګه تري ځارنه سرته ورسیږي.

١ . ټول سامانونه دي له کوټي څخه وویستل شي او هغه دې پاک او وینځل شي.

A . ټوله سره دي وویستل شي او کوټه دي ضدعفوني کړل شي او پاک دي وینځل شي.

B . ټول سامانونه د لمر له وړاندې کیږدئ ترڅو د مضره بکتریاوو په لرې کولو کې مرسته وکړل شي.

**(د پاورپواینټ ٥ شمیره سلاید)**

د پاورپواینټ دا شمیره سلاید له الوتونکو څخه په لویه پیمانه ګټه اخستنه په ګوته کوي، چیرته چې چرګان په پنجرو کي ساتل کیږي، سره یې په ځمکه لویږي او د هغې پاکول او لرې کول ډیر اسانه کار دی.

**(د پاورپواینټ ٦ شمیره سلاید)**

٢ . له کوټي څخه دي د فرش ټول مواد او سره لرې کړل شي.

A . چي په دي تراشلو کي د ځمکي سطحه هم شامله ده.

B. د نازکي طبقي په ډول د حیواني سري ځاى په ځاى کول په هغه ځمکه کي چي د نورو چرګانو لپاره ورځخه استفاده نه کیږي.

٣ . دیوالونه او چت چارو او پاک کړئ.

٤ . له اوبو څخه په ډیر فشار سره کار واخلئ،او د کوټي داخل تراش کړئ.

**(د پاورپواینټ ٧ شمیره سلاید)**

د پاورپواینټ دا شمیره سلاید د یون وړوکی فارم خاوند ښایي چي د خپلو چرګانو کوټه د زیات فشار لرونکو اوبو پواسطه وینځي. له وینځلو څخه وروسته د کوټه داخل باید چي د ضد عفوني کونکو پواسطه سپرې(spray ) کړل شي.

**(د پاورپواینټ ٨ شمیره سلاید)**

د پاورپواینټ دا شمیره سلاید د یوه غټ فارم تصویر را په ګوته کوي چي له ورته اوبه شیندونکی څخه د کوټي وینځلو لپاره استفاده تري کوي.

**(د پاورپواینټ ٩ شمیره سلاید)**

٥ . د کوټي داخل د قبول شوو ضدعفوني کونکو موادو پواسطه دوا پاشي کړئ.

B . د اوبو او خوراکي لوښو ته د ضدعفوني کونکو درملو له داخلیدو څخه مخنیوی وکړي.

٦ . پاک، نوی او وچ مواد د فرش لپاره د کوټي په داخل کي واچوئ.

٧ . کوټه یا اطاق د دوه اونیو لپاره خالي پریږدئ ترڅو د هري شتون لرونکي ناروغی د ژوندانه دورانه له منځه لاړ شي.

٨ . د حشراتو(pests) د نسل اخستني ځآیونه له منځه یوسئ.

**(د پاورپواینټ ١٠ شمیره سلاید)**

B . د امکان تر حده ملاقات کونکو ته د کوټي د ننوتلو لپاره اجازه مه ورکوئ.

١ . ملاقات کونکي یا هم میلمانه کیدلی شي چي بکتریاوي او ویرسونه له خپل ځان سره د کوټي داخل ته راوړي او د وژونکو ناورغیو سبب او لامل وګرځي
**(د پاورپواینټ ١١ شمیره سلاید)**

C . مړه شوي چرګان د کوټي یا اطاق له داخل نه لرى کړئ ځومره چي امکان ولري هغه پیدا کړئ او لري یي کړئ.
١ . مړه شوي چرګان باید چي له ذکر شوي فارم څخه وړاندې یوسئ او هغه په یوه کنده کي ښخ کړئ او یا هم ویي سوزوی.
A . له مړه شوو چرګانو څخه تر هغه وخته پوري استفاده ونه کړئ ترڅو چي یي د مړیني لامل څرګند شوی نه وي.
B . د الوتونکو ځني ناروغۍ انسانانو ته سرایت کوي.
له زده کونکو څخه پوښتنه وکړئ چي ولي دا مهم دي چي د چرګانو فارم باید پاک وساتل شي؟ ایا تاسي فکر کوئ چي د ټولو چرګانو لپاره کړنه یا طرز العمل ورته او مشابه دی؟ د چرګانو په برخه د زیات تنظیم لپاره له
**http://pubs.caes.uqa.edu/caespubs/pubcd/B1244/B1244.htm**. څخه کتنه وکړي، دا عملي له زده کونکو سره تر بحث لاندې ونیسئ .

دوهمه موخه یا هدف : د صحت د منجمنټ او اداري نوري کړني کومي چي په چرګ پالنه کي استعمالیږي.
**(د پاورپواینټ ١٢ شمیره سلاید)**

١١ . د چرګ پالنې په اداره او منجمنټ کي حفظ الصحه یو ډیر مهم میتود او فکتور ګڼل کیږي.
ولي ځني نوري عملي او کړني هم شتون لري چي صحت د اداري په برخه کي په پام کي نیول کیدلی شي.
A . له ناروغۍ څخه پاکه ګټه اخستل له ناروغۍ نه د پاکو چرګانو د اخستلو پواسطه.
١ . د الوتونکو اکثره تولیدونکي د خپلو چرګانو د پلورلو څخه دمخه هغوي د ناروغیو لپاره معاینه کوي.
٢ . له تولیدونکو څخه دي پوښتنه وکړل شي چي ایا هغوي د واکسین کولو، او د منجمنټ د نورو عملیو په برخه کي کوم اسناد لري چي ویي ښایي.
**(د پاورپواینټ ١٣ شمیره سلاید)**

B . په فارم کي هغه چرګان وساتل شي چي عین عمر لرونکي وي.
١ . چي دا کار د All-in,all-out سیستم نه په استفادي کولو سره صورت نیسي.
٢ . د All-in,all-out مفهوم دا دی چي ټول چرګان په یوه وخت کي فارم ته راوړل شي او هم دي په عین وخت کي له فارم څخه خارج کړل شي(مارکیټ ته)
٣ . که چیري په فارم کي مختلف عمر لرونکي چرګان شتون ولري هغو د ٤٠ فوټو فاصلې په اندازې سره یو له بل نه وړاندې وساتئ.
C . د نسلي چرګانو ګله یا رمه له نورو چرګانو څخه وړاندې او لرى وساتئ.
١ دي ته دې ترجیح ورکول شي، هر کله چي نسلي چرګان Breeders په فارم کي ساتل کیږي نو د نورو نسلونو له پالني څخه دي ډډه وکړل شي.
**(د پاورپواینټ ١٤ شمیره سلاید)**

D . نور الوتونکي(وحشي) له فارم څخه وړاندې تر ساتني لاندې ونیسئ. یا هم د چرګانو له ګلو نه دي وړاندې وي.
E . د فارم په داخل کي دي د چرګانو لپاره د مناسبې هوا جریان مساعد کړل شي.

F . پرې نه ږدئ چې موږکان اطاق یا کوټې ته داخل شي.
G . بیلانس شوی غذایي جیره دې چرګانو ته ورکول شي ترڅو له خوراکي څخه د منځته راتلونکو ناروغیو څخه مخنیوی وشي
H . چرګانو ته باید چې پاکې او تازه اوبه برابری کړل شي.
I . د ټولو چرګانو یو ریکارډ باید چې ولرئ چې په دې ترتیب سره دا افهام وشي چې څه وخت چرګانو واکسین شوي، د کومو ناروغیو ستونزي لري، او له کومو نوعو درملو څخه استفاده شوي ده. ټولګی داسي په ګروپونو تقسیم کړئ چې د ۳-٤ پوري زده کونکي ولري. له هغوي څخه غوښتنه وکړئ ترڅو چې د ریکارډ یوه ورقه له کومي څخه چې په فارم کي استفادې صورت نیولی وي، جوړه کړي. چې په هغې کې ځني مواد لکه نوعه، عمر،جنس،د واکسین جدول او د چرګانو د صحت عمومي کتني درج کړل شي. له هغو شیانو څخه چې د هغې په برخه کي بحث وشو د دې ریکارډ لپاره استفاده وکړئ. هر کله چې هر یوه ګروپ خپل ریکارډ برابر کړ نو ټول دې په ټولګی یوځای شي او خپل نظرونه دې د فارمونو د مروجه ریکاډ ورقو په جوړولو کي شریک کړي. د دې ریکارډونو نموني په دې لوست کې له c3-2 TM سره پیوسته دي.
دریمه موخه یا هدف : د الوتونکو واکسین کول.
**(د پاورپواینټ ۱۵ شمیره سلاید)**

iii. د ګلي یا رمې سایز(اندازي) او همدارنګه نظر د چرګانو نوعو ته د واکسینونو کولو یو ضروري عمل دی ترڅو چې د اکثره ناروغیو له خپریدو څخه مخنیوی صورت ونیسي.

A . د واکسینونو کول د صحت د مناسب منجمنټ لپاره ځای نیونکي نه دي بلکه اکثره د ناروغیو له کنترولو سره مرسته کونکي دي.
۱ . د اکثره نوعو د ناروغیو لپاره واکسینونه شتون لري په شمول bronchitis ، fowl fox ، fowl cholera د او نورو ناروغیو.
**(د پاورپواینټ ١٦ شمیره سلاید)**

B . واکسینونه باید چې په هغو ځایونو کي استعمال کړل شي چې په هغې ځای کي ناروغي پیژندل شوي وي.
۱ . زیات واکسین کول یا نامناسب واکسین کول دي سبب کیږي چې نوموړي ناروغي د مخصوصو واکسینونو په مقابل کي مقاومت پیدا کړي.
۲ . د واکسین کولو پروګرام باید چې د ګټنې اخستنې مطابق او هم د محیط سره سم پلان شوي وي.
۳ . د واکسین کولو په برخه کې د خاص تفصیل لپاره د محلي یا ځآی د توسعي له نماینده سره په تماس کي شئ.
C .واکسین د چرګانو د ازار یا فشار لامل کیږي په دې لحاظ چرګان باید هغه وخت واکسین کړل شي چې صحتمند وي.
**(د پاورپواینټ ۱۷ شمیره سلاید)**

D . د واکسین د تطبیقولو لپاره مختلفي طریقي یا لاري شتون لري.
۱ . په خاصه توګه چرګان د Intransally Injection , او Intraocullary ، Wing web په طریقو سره واکسین کیږي.
**(د پاورپواینټ ۱۸ شمیره سلاید)**

A. Intranasal vaccination : په مستقیمه توګه د پوزې په سوری کي د واکسین ځای په ځآی کول.
**(د پاورپواینټ ۱۹ شمیره سلاید)**

B . :Intraocular vaccination په سترګه په مستقیمه توګه د واکسینونو ځآی په ځای کول.
**(د پاورپواینټ ۲۰ شمیره سلاید)**

C . Wing vaccination: د وزر د پوستکی په داخل کي د پیچکاری پواسطه د واکسین کولو له پروسې نه عبارت ده.
**(د پاورپواینټ ۲۱ شمیره سلاید)**

۲ . هغه واکسین چي د ټولو ګلو لپاره تطبیقیږي اکثره د اوبو له لاري یا هم د سپري spray یا dust په شکل سره صورت نیسي.
A . استعمال شوی میتود یا تکلاره د کنترولیدونکی ناروغی پوري اړه لري.
B . په انفرادي یا یوازې توګه واکسین کول نسبت د ګلې په ډول واکسین کولو ته د زیات فشار او ازار لامل ګرځي.
**(د پاورپواینټ ۲۲ شمیره سلاید)**

د پاورپواینټ دا شمیره سلاید د چرګانو غټه ګټه اخستنه په ګوته کوي چي په هغې کي یو غټ اتوماتیک شیندونکی sprayer د چرګانو د واکسین کولو لپاره شتون لري او استعمالیږي. په وړو ګټو اخستنو کي واړه شیندونکي(لاسی پمپ) استعمالیږي.
**(د پاورپواینټ ۲۳ شمیره سلاید)**

F . د ناروغي نه مخنیوی نسبت د ناروغی کنترولولو ته اسان کار دی.
۱ . د چرګانو ګله باید هره ورځ د ناروغی د علایمو لپاره وازمویل شي.
۲ . د خوراکي او اوبو ناڅاپي کمول د صحي ستونزو له علایمو یا نښو نه ګڼل کیږي.
۳ . که چیري یو فیصد ګله ناروغه وي په دي ځآی کي ناروغي شتون لري.
**(د پاورپواینټ ۲٤ شمیره سلاید)**

٤ . د مړینې اندازه د ناروغی یوه بله معمولي نښه یا علامه بلل کیږي.
A . د مړینې نارمل اندازه له لومړیو دري اونیو کي په دري وانی لرونکو چورګوړو کي تقریباً ۲ فیصده ده.
۱ . په فیل مرغانو کي دا اندازه ۳ فیصده تجربه شوي ده.
B . له دریمي میاشتي څخه وروسته د مړینې اندازه په هره میاشت کي له یوه فیصد نه تجاوز باید ونه کړي.
C . په اندازه کي ناڅاپي زیاتیدل د ناروغی له علایمو یا نښو نه شمیرل کیږي.
**(د پاورپواینټ ۲۵ شمیره سلاید)**

۵ . ځني له ناروغیو څخه یوازې په لابراتوار کي د دقیقو معایناتو پواسطه تشخیص کیدلی شي ولي کم له هغوي نه په فارمونو کي تشخیص کیږي.
A . د ناروغی د علایمو یا نښو په وخت کي محلي وترنر ډاکټر یا د توسعي مامور سره د مشوري لپاره په اړیکه کي شئ.
B . د نمونو یا بیلګو د راټولو لپاره هر یو لابراتوار مختلفو اړتیاوو یا ضرورتونو ته اړتیا لري.
زده کونکو ته د TM:1-c3 (د الوتونکو ناروغی) او Ls:1-c3 (د الوتونکو د ناروغیو معلومات) یوه ، یوه کاپي برابره کړئ. له زده کونکو نه غوښتنه وکړئ چي د هري نوعي لپاره یوه ناورغي پورته کړي هغوي ته لاسرسی(انټرنیټ) او درسي کتابونه دي ورکول شي ترڅو د ناروغیو په برخه کي څیړنه وکړي. هرکله چي هغوي ډک کړي، هغوي معلوماتي شیان او مواد لکه پاورپواینټ یو pamphlet یا د پوستر شکل له خپلو معلوماتو څخه به برابر کړي، چي دا به د الوتونکو د تولیدونکو د لاسرسی لپاره ځای ونیسي.

**لنډيز \ بيا کتنه:** د دې لوست لنډيز او تکرار د زده کونکو د زده کړو موخو په شاوخوا کې متمرکزه کړئ. له زده کونکو نه غوښتنه وکړئ چې د لوست هغه منځ پانګې کومې چې بيا کتنې ته اړتيا لري او هغه موخې چې بايد په مختلفې تګلارې سره تدريس کړل شي کومې دي.
د پاورپواينټ له ۳۹ شميرې سلايد له سوالونو څخه هم په دې برخه کې استفاده کيدلی شي.
**عملی کار:** زده کونکو د چرګانو هغه توليدونکو ته يوسئ چې د چرګانو فارمونه په مختلفو اندازو سره ولري او يا هم توليدونکی ټولګی ته رادعوت کړئ ترڅو له ټولګې نه ليدنه وکړي. له توليدونکی نه غوښتنه وکړئ چې د خپلې اداري او منجمنټ په برخه کې وينا وکړي، هغوي د چرګانو د سلامتيا او ساتنې لپاره څه کوي او د واکسين کولو لپاره څه کوي. د دې په عوض کې دې زده کونکي خپله پروژه له دريمې موخې څخه په ټولګې کې وړاندې کړي.

د ټولګې لپاره دريمه موخه

**ارزيابی:** ارزيابی بايد د زده کونکو په لاسته راوړنو باندې متمرکزه وي کومه چې له درسي موخو څخه وي. په دې برخه کې مختلف تخينکونه د استعمال وړ دي، د بيلګې په توګه په غوښتنيزو فعاليتونو باندې د زده کونکو اجرا کوني. په ليکلې بڼه امتحان يا ازموينه ددې درسي مواد شامله دي.
نمونه يي امتحان ته ځوابونه:
۱ c
۲ a
۳ d
٤ b
لنډ ځوابونه

۵ . ټولې ګلې کيدلی شي چې په اوبو يا خوراکه کې د واکسين اينودلو پواسطه يا هم د سپرې کولو پواسطه واکسين کړل شي.
٦ . هغه ملاقات کونکي چې فارم ته داخليږي کولی چې د نا معلومو ناروغيو او ويروسونو خپرونکي شي.
۷ . په روغو چرګانو کې د واکسين تطبيقول د هغوي د تکليف سبب کيږي همدارنګه د سالمو چرګانو واکسين کول ويروس د واکسين په مقابل کې مقاوم کوي او د هغې استعمالول بې فايدې کوي.
۸ . د خوراکې او اوبو کموالی په ګله کې د ناروغۍ يو له علامو يا نښو نه شميرل کيږي.

نمونه يي امتحان يا ازموينه

نوم.........................

امتحان يا ازموينه

c برخه دريم لوست: د الوتونکو د صحت منجمنټ او اداره
لومړۍ برخه:مقايسه يا پرتله کول
هدايات (لارښونه): د هرې جملې په وړاندې يوازې صحيح ځواب نوشته کړئ.

- All-in, all-out د فارم داخل ته د هم عمر لرونکو چورګوړو داخلول او په عين وخت کې له فارم څخه مارکيټ د هغوي ويستل
- Intranasal vaccination د الوتونکو په پوزه کې د واکسين تطبيقول(چرګ)

- Intraocular vaccination د الوتونکو په سترګه کي د واکسین تطبیقول (چر)
- Wing web vaccination د واکسین تطبیقول د وزر په پوستکی کي د پیچکاری په شکل سره

۱ ......... په دي طریقه کي واکسین د چرګانو په سترګو کي اچول کیږي.

۲ ........ ټول چرګان فارم ته په یوه وخت کي راوړل کیږي او په عین وخت کي ورڅخه ویستل کیږي.

۳ ........ د واکسین یوه طریقه ده چي په هغې کي واکسین د چرګانو په وزرونو کي ځای په ځای کیږي.

٤ ........ په دي طریقه کي واکسین د چرګانو په پوزه کي اچول کیږي .

دوهمه برخه: لنډ ځوابونه

هدایات(لارښونه) : د سوالونو د ځوابولو لپاره لنډي جملي نوشته کړئ.

٥ . په کومي طریقي سره کولی شئ چي ټوله ګله واکسین کړئ؟

٦. ولي سیل کونکوباید د فارم د داخلیدو لپاره اجازه ور نه کړل شي ؟

٧. روغ چرګان ولي باید چي واکسین نه کړل شي؟

٨. د چرګانو د صحت په برخه کي یو له عامو نښو څخه کومه یوه ده ؟